# هندوباغ که هندباغ؟

## A comparative study of diction "Hind Bagh" and "Hindu Bagh" in the light of philology

عبدالکریم عامر*

**Abstract:**

Sometime ago Muslim Bagh was regarded as" Hind Bagh". This was mistakenly considered as "Hindu Bagh". Its very name was changed on the persistent demand of masses. Hind Bagh is a town of Killa saifullah, which is integral part of Zhob Division in Baluchistan. In this article the diction "Hind" and "Hindu" have been assessed. The "Hind" is ancient than "Hindu". Its traces are absolutely found in Pashto language till now. It is said that the diction "Hind" is derived from "Sindh".it is linked with Greek. However Greek had paid their visit 2300 years ago in Indus region. This adage has now great importance so far. Before the advent of Greek this region had own name. The Pashtoon used to call it with names of "sindh and hind". Colloquially, geographically, countless similar names and compounds are found in Pashtoon region with same sense. These are called with same meaning in nearest other regions, used for water and river

له خپل تاریخ سره ناپوهي پر ځان او خپلو نورو را روانو نسلونو باندې تر ټولو لوی جبر دی. علمي صلاحیت انسان ته لارې جوړوي، رڼا یې په برخه کوي. د تیارو له کندو یې راباسي. یوه هغه ډله چې په هیڅ نۀ پوهیږي، له هغو څخه ګیله هم نۀ کیږي، یوه هغه ډله چې د پوهې دعوه خو کوي، مګر پوهه نۀ لري. د هغو ټول ژوند پر خپل ځان تېروتلو کښې تېریږي، د هغو څخه یو هم داسې کار نۀ تر سره کیږي، چې هغه دي د دوی د یادوني سبب شي. یوه هغه ډله چې پوهي هم لري، او تاوانونه هم کوي. و تاریخونو ته اور دغوخلقو ورکړی دی. د چاپیریال چپې لارې د دوی له جوره جوړې شوي دي.دغه رنګه ظلم زمونږ له تاریخ سره زمونږ ځني ناپوهانو کړی دی، چې د تاریخ زوړ رنګ یې ور مسخ کړی دی، یوار د ادایني (تلفظ) له لارې، بیا هغه له تېروتنې ډکه اداینه یې د ځان خوښۍ له لارې نوره ژوبل کړې ده.

د پښتنو د یوې تاریخي سیمې نوم په خلقو کښې په " هندباغ "، "هندوباغ " سره شهرت لري. چې د ژوب دضلعې په پخواني تقسیم کښې یې دتحصیل حیثیت درلود. د ۱۹۰۱ ء د انګریزي ریکارډ مطابق یې ۳۲۷۵ څلور کونجه (سکوئیر) میله (miles) سیمه ( area) درلوده"(۱)

---

* Lecturer in Pashto, Government Degree College Loralai

دغه سیمه د نوې ضلعې (قلعه سیف الله ) له جوړېدو سره په دغه ضلع کښې د تحصیل هغه پخوانۍ درجه ور کړل شوه، چې تر اوسه پورې یې دغه رنګ دی.

د هند د تقسیم (۱۴م اګست ۱۹۴۷ ء ) له ورځې وروسته زمونږ پوهانو د خپلې پوهې په کچه د دغه تاریخي سیمې نوم د "مسلم باغ" په نامه نومول وغوښتل.چې اوس " هندوان "د دې سیمې برخه نهٔ شو پاته، نو دا نوم دې هم د دوی له رنګه واړول شي.

د ځنې خلقو دغه غوښتنه د بلوچستان د وزیر اعلیٰ " سردار عطاء الله مېنګل " په وزارت کښې (۱ مې ۱۹۷۲ ء څخه تر ۱۳ فروري ۱۹۷۳ ء پورې ) تر سره شوه. او د سرکار اوخلقو له خوا څخه د " مسلم باغ" په نامه یې لیکل او یادول پیل شو. ځنې روایات دا دي، چې دا د ۱۹۷۰ ء په شاوخوا کښې بدل کړل شو. (۲)

روایتي تاریخ لیکونکو هم په پټو سترګو هر بې ډوله او مافوق الفطرت روایت ته ځای ورکړی دی. دغه کار یې کله د څهٔ غرض دپاره کړی وي، او کله یې د ور په غاړه کړل شوي کار او مزد دپاره د کاغذونو مخونه ور تور کړي وي. دغه بې ډولي زمونږ له نسب څخه واخلې بیا تر تاریخ، جغرافیه او شخصیاتو پورې هر څهٔ د دربار په بند چاپېریال کښې لیکل شوي او تر نقد و نظر نهٔ دي وتلي. ځکه یې رنګونه له بې رنګۍ سره مخامخ دي.ډېر څهٔ سپینولو ته اوس هم اړتیا لري. دا کار په کلکو ارادو او ځوان همت ترله اړول غواړي، چې زمونږ د تاریخ ښهٔ اړخونه را برسیره شي، او په اراده باندې زمونږ هر څهٔ چې له مخه ایستل شوي دي، هغه باید څرګند کړل شي.

د دغې سیمې ذکر د "هندوباغ" په رنګ کښې په کتابونوکښې ډېر روایتي غونډې ځای شوی دی، چې د څېړنې له رویه د منلو نهٔ دی. ځکه چې د روایت حیثیت وروستنی وي، زهٔ دلته ځنې روایتونه را نقل کوم، چې ماته په مخه راغلي:

”The local tradition asserts that in ancient times a Hindu fakir planted a tree of the description known as bagh in Kakar parlance, and hence the name (۳) “

ژباړه: (په ځایي توګه ویل کیږي، چې په تېرو وختو کښې یو هندو فقیر یوه درخته ولګوله، چې د کاکړانو په ورځنۍ کښې دباغ په نامه له دغه وروسته و پېژندل شو)

”اس جگہ کا نام پاکستان بننے سے پہلے ہندو باغ تھا۔ مگر پاکستان بننے کے بعد اس کا نام بھی تبدیل کر دیا گیا..... کہا جاتا ہے کہ پاکستان... پہلے ادھر چند مکانات ہوتے تھے۔ ان میں سے ایک میں کسی بندے کی دکان خو خاص مشہور تھی، سامنے پہچان کے لئے ایک درخت بھی تھا. اسی مناسبت سے اس کا نام ہندو باغ مشہور ہوا“(۴)

ژباړه: (د دغه ځای نوم تر پاکستان جوړېدو له مخه هندوباغ ؤ. د پاکستان تر جوړېدو وروسته یې دغه نوم هم بدل کړ. ویل کیږي، چې تر پاکستان له مخه دلته څو مکانونه وو، د یو هندو دکان په

دغو کښې ډېر شهرت درلود، د دکان مخ ته يې يوه درخته وه، چې له دغه جوره يې نوم هندوباغ شهرت و موند)

د انګريزانو په ريکارډ کښې هغه روايتي رنګ لري چې يې نوم "هندوباغ" (Hindubāgh) راوړی"(۵)

دا توری الفنستن (۱۷۷۹، ۱۸۵۹ء) هم "هندوباغ" راوړی"(۶)

دا روايتونه ډېر بې ډوله او د منلو نۀ دي. که د ژبې پوهان دې ته غور وکړي چې د سيمې نومان روايتي نۀ بلکه جغرافيايي ارزښت زيات لري. چې د منطق او دليل له لارې يې ډېر ځايونه د منلو حيثيت لري. ځای په ځای نوي آباديانې د شخصياتو پر نومونو اړه لري. چې سوچ له مخه وي جغرافيا زړه وي، او نوم يې لاسي (مصنوعي) رنګ ولري. لکه باچهانو چې د ځان يا د خوښې شخصياتو پر نومونو باندې اباديانې کړي دي. ډېر لږ داسې هم شته، چې نومونه بدل کړل شوي دي. په هغو کښې هم دغه د ځان خوښې او له بله د کرکې رنګونه ډېر کار لري، لکه د دې څېړنې د سر ليک د نامه بدلون چې شوی دی. ځنې نومونه او سيمې بيا د وخت له تېرېدلو سره د ژبې اوخلقو له تګ را تګ سره بل رنګ واخلي. خو د تاريخ څېړونکي يې هغه زوړ رنګ په جغرافيايي او مفهومي اعتبار نۀ پرېږدي، يادونه يې کوي.

اوس که مونږ "هند" توری په تاريخي توګه وګورو چې وروسته "هندوستان" او "هندي مذهب" هم ترون ورسره لري. نو بيلا بيلي نظريې په مخه راځي، چې دلته ځنې د يادولو دي:

د ځنو څېړونکو دا نظر دی، چې دا "هند" له يوناني توري "انډيا" (انډ= هنډ = هند) څخه اخيستل شوی دی. چې لومړی ځل يونانيانو د "انډس" (دريای سندھ) دپاره استعمال کړی ؤ. چې ځوکه ځوکه دغه نوم د پوره سيمې دپاره شو.

د هندوستان نوم د زړو اثارو له رويه هم هندوانو ته نۀ بلکې "هند" ته منسوب دی.چې د "هندو" تنسيب ورسره نۀ ښايي. چې د "هند" په رنګ کښې راغلی.د هندوستان د نامه په اړه يو فرانسيسي څېړونکی وايي، چې دا "هند" به د يوناني توري "انډيا" څخه اخيستل شوی وي، چې د "انډس" په نامه چې تر کومه ځايه رسېدلي ؤ، اخذ يې کړ. او د يو "رود" له جوره يې د ټول ملک نوم دغه و نوموۀ. چې د "هند" دپاره د رود معنا يې ډېر ځای نيسي.

د "هند" نوم لومړی ځل يونيانو ايښی ؤ، چې د "دوابه سنده" دپاره يې مختص کړی ؤ، چې وروسته ډېرو جزيرو او ساحلونو دغه نوم خپل کړ. لکه:

"شمالی مثلث کا نام ہندوستان یعنی ملکِ ہنود ہے اور ظاہراً ایسا معلوم ہوتا ہے کہ یہ لفظ یونانی لفظ "انڈیا" سے مشتق ہے۔ یونانیوں نے اس کو دریائے سندھ (انڈس) کے نام سے جہاں تک وہ پہنچے تھے اخذ کیا اور اس ایک ندی کے نام پر اس سارے ملک کا نام رکھ دیا جس میں سے یہ

گزرتی ہے. اور جس ملک کو فتح کرنے کی انہیں بے حد تمنا تھی. لیکن یہ اشتقاق پوری طرح مسلم نہیں ہے. اور ممکن ہے کہ ملک کا نام اس کے مشہور دیوتا اندر کے نام پر رکھ دیا گیا ہو....

جس وقت کرسٹافر کولمبس کے جہاز دنیائے جدید کے سواحل تک جا پہنچے تو اس کا یہی خیال تھا، کہ وہ ہندوستان کے ملک میں آ گیا. مغربی ہند کے سوا خود ایشیاء میں اور جزائر بحرِ ہند کے جزائر میں بہت سے جزائر اور سواحل کا نام ہند پڑ گیا تھا. حالانکہ یونانیوں نے اس نام کو صرف دوآبہ سندھ کے لئے مخصوص کر دیا تھا"(۷)

ژباړه: (د شمالي درې کونجه سیمې نوم هندوستان دی چې د هندوانو ملک دی.په ځرګند توګه داسې ښکاري چې دا توری له یوناني توري "انډيا" څخه اخستل شوی دی. او یونانیانو دغه نوم د سند د دریاب له نامه څخه اخیستی ؤ، چې تر کومه ځایه دوی رسېدلي وو، چې چرې دی بهیږې د دغه یوه دریاب له جوره يې د هغه ټول ملک نوم دغه کښېښوو.د کوم د نیولو چې يې ډېر شوق درلود. خو دا اخیستنه په بشپړه توګه د منلو نهٔ ده. دا هم امکان لري، چې د دې ملک نوم د دې د نامتو دیوتا اندر په نامه نومول شوی وي...

کله چې د کرسټافر کولمبس جهازونه د نوي نړۍ د سمندر تر غاړه ورسیدل نو د هغهٔ دا خیال ؤ، چې دی د هندوستان ملک ته راورسېد. له سهېلي هنده په ایسته پخپله په ایشیاء او په بحر هند کښې د ډېرو وچو سیمو او غاړو نوم هند نومول شوی ؤ. که څهٔ هم دغه نوم یونانیانود سیند د غاړو دپاره ایښی ؤ)

دلته پوښتنه دا پیدا کیږي، چې یونانیان دې سیمې ته کله راغلي ؤ.یونانیان دې سیمې ته تر عیسوي تاریخ ۳۲۷ کاله لمخه راغلي ؤ. چې څهٔ کم ۲۳۵۰ کاله موده شوې ده. یعني د پورتنۍ څېړنې له رویه دا نوم دغومره کاله زوړ دی.

اې مارسډن د "یونانیوں کا ہند میں آنا"تر سرلیک لاندې لیکي "ہند کا سب سے پہلا تاریخی بیان جو مع سن ہمیں ملا ہے وہ یونانیوں کے قلم سے لکھا گیا تھا....یونانیوں نے ۳۲۷ قبل مسیح میں سکندر کے زیر کمان ہند پر جو حملہ کیا. وہ یہاں کی تاریخ میں ایک اہم واقعہ تصور ہوتا ہے"(۸)

ژباړه: (د هند لومړی تاریخي بیان له نېټې سره زمونږ لاس ته راغلی دی هغه د یونانیانو په خپل قلم لیکل شوی دی یونانیانو تر عیسوي تاریخ درې سوه اوهٔ ویشت ۳۲۷ کاله چې د سکندر په مشرۍ کښې پر هند کوم یرغل کړی ؤ، هغه د دې سیمې په تاریخ کښې اهمه پېښه ګڼل کیږي).

د دغې سنې پخلی یوه بل تاریخ لیکونکي هم کړی دی، سکندر چې د اوسني ازبکستان او تاجکستان پر سیمه دوه کاله تېر کړل تر هغه وروسته واقعاتو کښې وایي:

"۳۲۷ق م تک، اور پھر ہندوستان کی بے پناہ دولت کے قصے سن کر اس کے منہ میں پانی بھر آیا، اور وہ شمالی ہندوستان پر حملہ آور ہوا"(۹)

ژباړه: (تر ۳۲۷ ق م پورې، چې د هندوستان د ډېر دولت خبرې یې تر غوږ شوې نو خولۀ یې ورته اوبۀ اوبۀ شوه او پر شمالي هندوستان باندې یې یرغل وکړ)

خو دلته د یونانیانو تر راتګ له مخه هم خلق استوګن ؤ. چې په هغو کښې پښتانۀ هم وو. او دوی دې خپلې سیمې ته نوم درلود. نورو یې هغه نوم اخیستی دی. په دې پخلې کښې دا څېړنې هم د کتلو دي:

د اردو ژبې لیکوال "ایس ایم شاهد" وایي:

"د هندو لفظ د سنکرت په زړو لرغونیو کتابونو کښې نۀ شته داسې ویل کیږي چې دا لفظ له انډس"Indus" یا سندهو "سنده" څخه اخیستل شوی دی. بیا مسلمانانو دا لفظ د هغو خلقو دپاره استعمال کړ، چې د سیند د دریاب په ختیځ باندې یې استوګنه کوله، په ورو ورو بیا دا لفظ د هندوستان د اوسېدنکو په مفهوم تبدیل شو"(۱۰)

د ابن بطوطه (۷۷۷ق مړ) د سفرنامې ژباړونکی په حاشیو کښې دا خبره لړ پر بله خوا بیایي:

"سندھ، سنسکرت، میں سندھو دریا کو کہتے ہیں. کیونکہ آریالوگ پہلے مغرب کی طرف سے آئے تھے. اس لئے انہوں نے پہلے جو سب سے بڑا دریا دیکھا اس کا نام سندھ رکھ دیا. دریا کے نام سے ملک کا نام مشہور ہوگیا. کیونکہ فارسی اور سنسکرت کے الفاظ میں ہ- اور س کی تبدیلی ہو جاتی ہے اس لئے اہل فارس اس ملک کو ہند کہنے لگے"(۱۱)

ژباړه: (سنده. په سنسکرت کښې سندهو دریاب ته ویل کیږي. آریایي خلق لومړی ځل د لویدیځ له لوري راغلي وو. دوی چې کوم لوی دریاب لومړی ځل ولیدو د هغۀ نوم یې سندهو کښېښو. له دغه نامه سره د ملک نوم هم دغه مشهور شو. په پارسي او سنسکرت کښې په تورو کښې هـ او س سره بدلیږي، په دغه سبب د فارس خلقو د دغه ملک نوم هند ویل پیل کړل)

لوی استاد حبیبي (۱۹۱۰، ۱۹۸۴ ء) د خپلې څېړنې له رویه د " سیندSind " لغت په اړه ډېر خوندور لغوي بحث کوي، وایي:

" په رګویدا کښې سپته سندهو Sapta Sindhu مکرراً راځي یعني اووۀ روده چې دغه نوم په اوستا کښې کټ مټ دغسې "هپته هندو" Hapta Hindu ذکر کیږي. په دې علاقه کښې چې اووۀ روده بهېدل یوه حصه یې اوسنی پنجاب دی چې پینځۀ روده په کښې بهېږي.

دغسې هم "سندهو" په ویدي سندرو کښې صرف د "رود" په معنا دی. چې هر وخت د اوستا ژبه کښې د ویدي ژبې (س) په (ه) تبدیلیږي، نو د " هند" نوم هم له " سندهو" څخه جوړ شوی دی.

پخوانو آریایانو د "انډوس" رود هم " سندهو" باله او مطلق هر رود یې هم په دغه نامه بالۀ.او داسې معلومیږي، چې دوی په تریخ دریاب (بحر) خبر نۀ وو. دا کلمه یې پر هر رود اطلاق کوله.

د اوستا لومړی فرګرد د هغه عصر د شپاړسو مشهورو مځکو او هيوادو نومونه بيانوي، پنځلسمه مشهوره مځکه يې هپته هندو Hapta Hindu ده چې دغه نوم په زړه پاړسو کښې " هندوا" Hindava راغلی او هغه سندهو په هندو ابدال شوی دی.

د اوستا د لومړي فرګرد په ۱۹ فقره کښې وايي " له ښو مځکو څخه پينځلسمه چې خالق پيدا کړې ده، هپته هندو (اووهٔ روده) دي "(۱۲)

يعني د لوی استاد له څېړنې دا څرګنديږي چې د "هند" رنګ له " سيند " څخه اخيستل شوی دی، چې مانا يې " رود" ده.

استاد رشاد(۱۹۲۱، ۲۰۰۴ ء ) يې ښه لغوي او وضاحتي څېړنه وړاندې کړې ده، وايي:

"د سانسکريت "اس "په ارياني ژبو کښې په "اچ" اوړي. په دوی کښې د " س "او " ه. " د دغو ابدال راځي، مثلاً مونږ وينو چې د سانسکريت " سوما"په آرياني ژبو کښې "هوما" ده، د سانسکريت سور او سوريه په ارياني ژبو کښې " هور"ده، چې بيا "خور " له هغه جوړ شوی دی او د لمر معنا لري او داسې نور. يا مثلاً "سيندو" چې د اباسين نوم دی، هغه په ارياني ژبو کښې " هندو" بلل کېدی ؛ چې بيا يونانيان راغلل او له هغو څخه ئې " ايندوس" جوړ کړ او ايندوس اوس هم په انګليسي ژبه کښې اباسين ته ويل کيږي"(۱۳).

احمدعبدالله دګپتې (Gupte ) ايډوکېټ د کتاب "ہندو کون ہیں" په حواله وايي، چې "خود لفظ ہندو کسی قدیم سنسکرت کتاب میں استعمال نہیں ہوا ہے. یہ ایک بیرونی لفظ ہے کہا جاتا ہے کہ لفظ "ہندو" انڈس یا "اندو" سے نکلا ہے. ہندو کا یہ لفظ مسلمانوں نے ان لوگوں کو دیا تھا. جو اس نام کے دریا (دریا سندھ) کے مشرق میں رہتے تھے. رفتہ رفتہ یہ لفظ ہندوستان کے ہر باشندے کے لئے استعمال ہونے لگا."(۱۴)

ژباړه: (هندو توری په زړو سنسکريت کتابونو کښې نهٔ دی استعمال شوی، دا پردی (بهرنی ) توری دی. ويل کيږي، چې توری " هندو"له " انډس " يا "اندو" څخه وتلی دی. د "هندو" دغه توری مسلمانانو هغه خلقو ته ويلی ؤ، چې د دغه نامه درياب (سيند) په ختيځ کښې استوګن ؤ. څوکه څوکه دغه توری د هندوستان د هر اوسېدنکي دپاره و ويل شو)

د "هندوستان " په اړه هم دغه رېښې د "هندو" نهٔ بلکې د "هند" په رنګ کښې په زړو آثارو کښې وينو. نامتو مؤرخ البلازري ( ۲۰۳، ۲۷۹ ق ) چې د دريمي (۳) هجري پيړۍ مؤرخ ؤ، د "ابن مضرغ" نومې شاعر دوه شعرونه يې راوړي، چې د کندهار د جنګ په اړه دي:

کم باالجُرومِ وَارض الهِند منِ قدمٍ :: و من سرائِنک َ تَتلی لا هُم قبِروا
بقُندُهارَ و من تکتب منيتَهُ :: بقندُ ها زيرَ جم دونه الخبرُ

(گرم سیر علاقوں (بلوچستان وکابل) اور ارض ہند میں ہمارے کتنے ہی جان باز قتل ہوئے جنہیں گور گڑھا تک نصیب نہ ہوا- یہ قندہار کا قصہ ہے. وہاں کسی کو موت آئی تو پھر، اس کی کوئی خبر نہ ملے گی)(۱۵)

دا جنګ عباد بن زیاد کړی ؤ، چې "د معاویه خوریی ؤ. اووۀ کاله د سیستان والي ؤ. د دۀ په وختو کښې عربو کندهار ونیو. یزید بن معاویه په ۶۸۰ء = ۲۰ هجري قمري کال معزوله کړ". (۱۶)

نامتو سفر کوونکی ابن بطوطه (۷۷۷ ق مړ) اووۀ سوه (۷۰۰) کاله لمخه د ۷۳۴ ق د محرم د میاشتې د لومړي تاریخ په حالاتو کښې وایي چې زۀ د سیند دریاب ته را ورسیدم، دۀ هم د "هند" توری راوړی دی. د دۀ د متن ترجمه شوی رنګ دادی:

"اس ملک کے باشندوں کی زندگی بھی اس دریا کی طغیانی پر منحصر ہے۔یہاں سے سلطان محمد شاہ مسلمان بادشاہ ہند و سندھ کی عملداری شروع ہوتی ہے"(۱۷).

ژباړه: (د دغه ملک د اوسېدنکو ژوند د دې دریاب پر موجونو باندې ولاړ دی. له دغه ځایه د مسلمان باچاهند و سندهٔ سلطان محمد شاه واکمني پیل کیږي"

یو فرانسیسي څیړونکی وایي، چې:

"قدیم ہند کی کوئی تاریخ ہی نہیں ہے. ان کی کتابوں میں مطلقاً تاریخی واقعات درج نہیں ہیں. اور ان کی عمارات او یادگاروں سے اس کمی کی تلافی ہوئی ہے. کیونکہ پرانی سے پرانی یادگار بہ مشکل تیسری صدی عیسوی سے ماقبل کی ہے. علاوہ چند مذہبی کتابوں کے جن میں بعض تاریخی واقعات کہانیوں اور حکایات کے اندر دفن ہے. قدیم ہند کے حالات کا معلوم کرنا اُسی قدر مشکل ہے، جیسا کہ اُس خیالی جزیرہ انٹلانٹس کا. جو بقول افلاطون انقلاب ارضی کی وجہ سے تباہ ہوگیا. قدیم ہنود کی صرف ایک تصنیف ہے جس کی طرف ہم تاریخی واقعات کو تلاش کرنے کے لئے رجوع کرسکتے ہیں. یہ اُن کا وید یعنی مذہبی نظمیں ہیں... ان میں سے قدیم سے قدیم زمانہ کا تقریباً پندرہ سو سال قبل مسیح کا ہے. اس کے بعد درجہ رامائن، اور مہابھارت کا ہے اور پھر منو کا شاستر ہے.... ہندوستان کا تاریخی زمانہ فی الواقع مسلمانون کی فوج کشی کے بعد سے شروع ہوا، اور ہندوستان کے پہلے مؤرخ مسلمان ہیں.(۱۸)

ژباړه: (د زاړۀ هند تاریخ نۀ شته، په کتابونو کښې یې خاص تاریخي واقعات نۀ دي راغلي. د دوی له عمارتونو او پاته شیانو څخه د دغه کمبوت څۀ تلافي شوې ده.ډېر زوړ پاته شوی شی درې پیړۍ تر عیسوي تاریخ له مخه دی.له یو څو مذهبي کتابونو په ایسته چې ځني تاریخي پېښې د قیصو او حکایتونو په جامه کښې په کښې نغښتي دي شته. د زاړه هند حالات معلومول داسې ګران کار دی لکه د وچې هغه خیالي انټلانټس معلومول چې افلاطون یې په اړه ویلي ؤ، چې هغه د ارضي بدلون له جوره تباه شو)

د زړو هنودو یو کتاب دی، چې په هغه کښې مونږ زړې تاریخي پیښې کتلی شو، دا وید دی، چې مذهبي نظمونه لري. په دې کښې ډېره زړه زمانه تر عیسوي کال له مخه پنځلس سوه (۱۵۰۰) کاله ته رسیږي، بل څۀ نۀ شته. تر دې وروسته درجه د رامائن، او د مهابهارت ده، بیا د منو شاستر

دی. د هندوستان تاریخي زمانه د مسلمانانو له یرغلونو وروسته پیل شوه. او د هندوستان لومړي تاریخ لیکونکي مسلمانان دي)

غرض دا چې "هندوستان" هم د "هند" په رنګ کښې زوړ نوم لري؛ دغه یې تاریخي څېړنه ده. که "هند" لغت د هندي په لغت کښې وګورو هم په دغه پورته څېړل شوې مانا راغلې لکه:

"یہ لفظ (سندھ) سے بنا ہے. کیونکہ ممالک مغربی کے لوگ (س) کی جگہ (ھ) اور (دھ) کی جگہ (د) لکھتے ہیں"(۱۹).

ژباړه: (دا توری له (سندھ) څخه جوړ شوی دی. ځکه چې د مغربي ملکونو خلق (س) په (ھ) سره ادا کوي او د (دھ) پر ځای (د) وایي)

په "بحر هند "یا "بحیره هند" کښې دا نور هم څرګندیږي.چې هغه د اوبو او رود مفهوم ورکوي.خبره دا میان ته راځي چې د هندو مذهب څومره وخت کیږي، په دې اړه محققین وایي:

"جب ۲۰۰۰ق م سے ہندوستان میں آریائی قبیلے آکر آباد ہونے شروع ہوئے تو وہ اپنے کچھ ایسے مذہبی عقائد بھی لائے جو یہاں کی قدیم آبادی کے مذہبی عقائد سے مختلف تھے. ۲۰۰۰ ق م سے ۵۰۰ ق م کے عرصے میں ان آریائی لوگون نے اپنے مذہبی عقائد کو جن کے بنیادی عناصر قدرت کی عبادت پر رکھی گئی تھی. ایک ایسی شکل دے دی، جو ہندو مذہب کہلائی"(۲۰).

ژباړه: (چې تر عیسوي کال دوه زره (۲۰۰۰) کلونه له مخه آریایي قامونو په هندوستان آبادیدل پیل کړل نو له ځان سره یې ځني مذهبي عقیدې هم راوړې.چې د دې سیمې له زړې آبادۍ څخه یې په مذهبي عقیده بیل والی درلود. تر عیسوي تاریخ دوه زره (۲۰۰۰) کاله له مخه څخه تر پینځۀ (۵۰۰) کاله له مخه پورې دغو آریایي قامونو چې د مذهبي عقیدو کوم بنیاد کښېښو، چې بنیادي عناصر یې د قدرت پر عبادت باندې وو، هغه ته یې داسې رنګ ور کړ، چې هندو مذهب ورته و ویل شو)

د هیروډوټس (۴۳۱ ق ژوندی) د سفرنامې ژباړونکی وایي:

"اندازہ ہے کہ ہندو نسلیں کم از کم ۱۲۰۰ق م میں ہندوستان میں آباد ہوئی تھیں. ویدوں کا دور بھی یہی بتایا جاتا ہے تاہم وہ کسی ایک دور کے نظر نہیں آتے"(۲۱)

ژباړه: (داسې اندازه کیږي چې د هندوانو نسلونه تر عیسوي تاریخ دولس سوه کاله (۱۲۰۰) لمخه په هندوستان کښې آبادشوي وو. د ویدونو دور هم دغه خبره ښیي، خو که ورته وکتل شي دوی د یوۀ دور نۀ ښکاري)

یعني د هندو مذهب تر څلور زره (۴۰۰۰) کاله زیات وخت نۀ کیږي.ځني محقیقن په دې نظریه دي، چې د هندومت پینځۀ دېرش سوه (۳۵۰۰) کاله کیږي. (۲۲) چې د هندو تر تنسیب یې هغه د "هند" رنګ زوړ ښکاري.

اوس به راشو خپلې ژبې ته، په پښتو کښې د "هند" لغت ريښې شته، چې په مانوي توګه هر څوک ور سره شناخته دی. او مونږ يې په " هندوانه "نومې توري کښې په اساني سره ليدلی شو.

" هند" په پښتو کښې د (اوبو ) په معنا هغسې پروت دی. لکه په " هندوانه " کښې. که ورته وکتل شي نو"هند" (اوبه) او " وانه " لغت د (مجموعه، کوړه) مانا لري. چې د انګريزي ژبې (Water-melon) په هم دغه رنګ کښې زمونږ مرسته کوي.

په پښتو کښې "وانه " توری د غنمو د کوري دپاره عام دی. چې غنم او پروړ يې نۀ وي سره بيل کړل شوي. د دې خبرې پخلی استاد راحت زاخيلي(۱۸۸۲، ۱۹۲۳ ء)، ميجر راوړتي ( ۱۸۲۵، ۱۹۰۲ ء)، پردل خان خټک (۱۹۲۴ ء زوکړه) هم په خپلو لغتونو کښې کړی دی.(۲۳)

استاد دوست شنواری(۱۹۹۳ ء مړ) يې دغه دليلونه هم راوړي:

چې نن تانه بيانه ده
يا د ښو بدو تانه ده
هغه درخت به يې فردا زيږي
چې يې د ببخ وانه ده

(ارزاني خويشکي)

دی عطا د وږي کا وانه يې نۀ شته
خندا وړی په خطا د دې دهقان يم(۲۴)

(اشرف هجري)

د پښتو "هنداره "= هند داره (آئينه ) توری هم د غور وړ دی. چې د "هند" اوبه ييز رنګ او د څۀ په کښې ليدلورېښې ښکاري. "داره" وروستاړی (لاحقه ) دی. او ځاني مانا يې هم څرګنده ده. مانوي قدامت يې د ژبې د پوهانو دپاره د غور وړ دی.

په پښتو کښې يو توری "هنده" (۲۵) دی، چې "په يوه ساه څښنه" ته ويل کيږي، د " تکل"، "ارادې" او "غوښتنې" دپاره هم استعماليږي، دا په يوه ساه څښنه د "اوبو" معنوي ريښې ور سره لري.

په پښتنو کښې يو توری "هندوانۍ"(۲۲ ) دی، چې "د ژړ سر لرونکي مرغۍ" دپاره استعماليږي.د دې مرغۍ په اړه ويل کيږي، چې د اوبو پر غاړه کښېني نو يې خوندورې نارې تر خولۀ وزي. دلته هم د دې مرغۍ او له اوبو سره ډېر تعلق د غور وړ دی. د اوبو تاثر يې د نامۀ په لغت کښې پروت دی.

اوس به راشو، د جغرافيايي(Geographical) نومونو و خواته، چې ډېر کله ځايي نومونه په خپل معنوي رنګ کښې هغه جغرافيا او آثار خوندي لري. په پښتني جغرافيه کښې د "هند"تر لغوي تاثر لاندې دغه نومان ماته مالوم دي، چې زما د بيلبري (موضوع) موخه هم دغه ده:

" د کونړ له مروري څخه چې واوړې، د افغانستان د سرحد دننه د "هندوراج "دره ده، تر غاښي (کنډو) پوري.

دړې دم، چينار، پيتاو، بلورو (Bilawro) يې کلي دي.

د ګبر د چينې واله د دړې دم په مسجد کښې تېرېږي. دومره اوبه دي، چې ژرنده په چليږي."(۲۷)

د " هند" د لغوي تاثر دا رېښې هم د "اوبو" تر مفهومه رسوي. چې " هندراج" شکل يې په "هندوراج" اوښتی ښکاري.

د افغانستان دوهم لوی رود " هلمند" هم دغه رېښې لري. چې زوړ رنګ يې " هند مند" ؤ.(۲۸)

جوزجاني( ۳۷۲ ق ) هم په خپل کتاب " حدود العالم "کښې، ثعالبي په خپل کتاب " لطائف المعارف ۲۱۱مخ" کښې "هندمند"راوړی دی. چې اوس له رود سره سره د افغانستان په اداري تشکيل کښې د يوه ولايت نوم دی.(۲۹)

په دغه سلسله کښې د بوري (لورالائي ) په "ميختر" (تحصيل) کښې د يوه کلي نوم "هينده" يا "هنده" دی:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| په | "هينده" | کښې | پاته | څۀ | دي |
| نن | سفر | او | امان | مرۀ | دي |

(کاکړۍ غاړه )

دا کلی د اوبو د کوم "هند" په رنګ کښې دی، د هغه اندازه په ليک کښې نۀ شي کېدی، مشاهده يې هر څۀ څرګندوي. خو بيا هم دا کلی د روانو اوبو د يو غټ تسلسل په ميان کښې دی.

که ورته و ګورو نو د "هندکش" سلسله هم دغه کړۍ لري. چې استاد عبدالشکور رشاد(۱۹۲۱، ۲۰۰۴ ء ) يې تصديق کوي. د "استاد خليلي "په حواله وايي:

"يونانيان د هندوکش غر د "کوکازوس"او " انديکوس"په نومونو ياد کړی دی. او خلق ګمان کوي، چې د هندوکش کلمه له دغه يوناني کلمې اندوکس څخه مشتقه ده.

ځني خلق هند په رود او نهر معنا کوي او کش څخه د غرۀ معنا اخلي "(۳۰)

د " هنډ" او " ويهنډ(Udakhanda) په اړه هم دغه تاثر ښکاري. استاد رشاد (۱۹۲۱، ۲۰۰۴ ء ) وايي، چې "د ويهنډ زوړ نوم( Udakhanda) دی. د کننګهم په شپږمه نقشه کښې يې ( Utakhanda) ليکلې ده.

د چینایانو د یون لیکونو په ۱۸۰ مخ کښې لیکلي دي:

د بهیما له معبده څخه جنوب ختیزې خواته د ۱۵۰ لي په مزله مونږ اتوکیان چا ته رسېږو، د دې ښار محیط تقریباً شل لیه دی. چې جنوبي څنډه یې له سنتو (اباسین) سره نښلي....

د "Ancient geography of India" د مقدمې په ۳ مخ کښې کښلي دي:

ویهنډ له ګودره څخه تر هغه ځایه پورې، چې د سینده. رود بحر (دریاب) ته لوېږي، د وچې واټن ۹۰۰ میله او د اوبو سره چې ځي ۱۲۰۰ میله دی"(۳۱).

دلته هم د "اباسین" د "اوبو" ذکر دغه "هنډ، ویهنډ" د "هند" تر شکله پورې رسوي. چې د فلالوجي( Philology) پوهان د ژبې د صوتیاتو (Sounds) په رڼا کښې دغه ډېر ښۀ سنجولی شي.

په " ویهند" کښې هم ماته دغه رېښې ښکاري، چې استاد عبدالشکور رشاد(۱۹۲۱، ۲۰۰۴ ء ) یې د کابلشهانو دوهم پایه تخت یادوي. څېړنه یې د ویلو ده:

"ویهند = هنډ = د پېښور قندهار (قندهار ښار):

په حدود العالم (مولفۀ ۳۷۲ ه. ) کښې لیکلي دي:

"ویهند شهر بزرگی است و بادشاه وی جیپال اندر اطاعت رای قنوج است اندرو مسلمانان اند اندک. جهاز های هندوستان بدین ناحیت افتد از مسک و گوهر و جالهای باقیمت... شهری عظیم است و اندرو بتان زرین و سیمین است بسیار و جای زاهدان است و برهمنان شهر باستا نست و او را ناحیتی است خاصه"

منهاج سراج وایي:

" بتخانۀ ویهند در حدود بر شاپور (برشاور = پېښور) بر لب آب سدره بود"

ګردیزي وایي:

"سلطان محمود دا ښار په (۳۹۲ ه. ق ) کال ونیو"

البیروني وایي:

د ویهند ناوه د سنده. د اوبو مجرا ده. د کابل غوروند (غوربند) پنجهیر (پنجشېر)، لنبکا (لغمان) اوبۀ یو ځای کېږي او برشاور ته نژدې د قندهار تر ښار یعني ویهند کښته د سنده. په اوبو ګډېږي. د کورمې او ګومل تویونه (رودونه ) هم په سینده. (اباسین ) ګډېږي......

ویهند د سنده. په شیله کښې د قندهار قصبه ده او د سنده اوبۀ تر دغه ځایه تېرېږي چې هندیان یې د زرو واله بولي. همدغه رنګه البیروني لیکلي دي:

ویهند د قندهار قصبه د سنده په شېله کښې ده. ځني کسان وایي چې ویهند هغه " مای هند" دی چې فردوسي یې په شهنامه کښې ذکر کړی دی:

همه در کابل و دنپر و مای هند
ز دریای چین تا به دریای سند
ز زابلستان تا بدان روی بست
بنوی نبشتند عهد درست

ابو ریحان البیروني په خپل اثر (کتاب الهند) کښې چې په (۴۲۴ ه.) کال یې لیکلی دی، لیکي:
"برشاور (پشاور) ۱۴ فرسخه کښته (ویهند) د قندهار پایه تخت د اباسین پر لمر ختیز پلو پروت دی و دهان (ودان ؟) بتیر، نوج لوار (... لواړه ؟) اتمان کوج (... کڅ؟) او نور د کندهار د لتي ښارونه دي.
په کتاب الهند کښې دغه راز لولو:
محمد بن قاسم ثقفي چې د سنده. بمنهوا او د پنجاب (؟) و ملتان ښارونه ونیول، په هندوستان کښې تر قنوجه پورې ولاړ، چې راستنېدی د قندهار او کشمیر سیموته ولاړ (قندهار = گندهارا). دلته له قندهاره مطلب ویهند دی. البیروني پخپل بل کتاب الجماهیر في معرفت الجواهر (۲۳۲ مخ) کښې لیکلي دي:
ویهند د قندهار یوه قصبه ده په هند کښې د اسیند (اباسین) د سرو زرو په ویاله مشهوره دی. تر دې چې ځني کسان یې له دغه سببه اوبه نهٔ خوښوي.
د "اٹک کے اس پار" په ۳۴۵ مخ کښې لیکلي دي:
" د سکندر اعظم تر حملې پخوا (۳۲۶، ۳۲۷) د پېښور وادي... د گندهارا پایه تخت (پیشکاروتي) ؤ، چې اوس یې چارسده بولو. د چندر گیت... (گندهار) د هند په پاچهۍ پورې تړلی ؤ. له مردانه څخه لس میله لیري د... اشوک کتیبې دا موضوع څرگندوي.
د البیروني د کتاب الجماهیر روسي ژباړې (منرالوجي) په ۴۷۹ مخ کښې راغلي دي:
ویهند د هندي Udabhand... ؟ د تعلقات هند و عرب په ۲۴ مخ کښې سید سلیمان ندوي لیکلي دي:
یو قندهار د سنده. په ایالاتو کې، بل په گجرات کښې او بل د هند په ښارو کښې تر کشمیر کښته، چې تقریباً اوسنۍ راولپنډۍ ده، سته. ما (رشاد) ته دغه وروستی قندهار د ویهند قندهار ښکاري ؟
البشاري مقدسي د احسن التقاسیم په ۳۷۷، او ۴۸۵ مخونو کښې لیکلي دي:
په ویهند کښې مسلمانان زیات دي او مسلمانان و هندوان بیل بېل امارتونه لري. ویهند د هغه ملک پایتخت دی. د ویهند ذکر تر مقدسي (احسن التقاسیم) وړاندې په اسلامي دوره کښې نهٔ لیدل کیږي مقدسي لیکلي دي:

ويهند له غزني څخه ۱۷ مزله شمال شرق خوا ته واقع دی. ډېره ارزاني ده په کښې، درې منه ( دهندوستان يو نيم سېر) شات په يوه درهم ( اتۀ انې ) دي. د شيدو او ډوډۍ بيه خو بېخي د نشت په حساب ده.

ډاکټر ناظم ويلي دي ويهند د هغه پاچهۍ پايه تخت ؤ، چې له لغمانه تر چنابه او د کشمير له جنوبه بيا تر ملتانه پورې يې حدود ؤ.

د صوبه سرحد په گزيټر ۱۵ کښې ليکلي دي:

Waihind يا Ohind يا Hind يا Und د سنده. پر غربي څنډه له اټکه څخه ۱۵ ميله په ۲۴ درجې ۲ ثانيې شمالي او ۷۲ درجې و ۲۷ ثانيې شرقي کښې يو کلی، چې له پېښوره څخه شمال شرقي لور ته واقع دی. او په هند قديم کښې يې Udaka يا Uda-Bhan Dapura باله، هيون تسانگ او تو، کيو، هن- چو ليکلي دي:

د هندو شاهۍ تر کي کورنۍ پايه تخت ؤ، چې د کابل او گندهارا پر شيلو يې د اسلام د راتگ په وختو کښې پاچهي کوله.

هيون څانگ په اوومه عيسوي پېړۍ کښې دا ښار معمور او اباد ښار بللی دی او محيط يې ۴ ميله ضبط کړی دی. اوسنی هنډ د پېښور شمال شرق د مردان د صوابۍ په لته کښې د اباسين پر ژۍ واقع دی او د دغه کلي پر شاوخوا د دوه ميلو په فاصلو د زاړۀ ويهند کنډوالې ليدل کېږي. د دې ښار په کنډوالو کښې دوې کتيبې هم پيدا شوي دي.

بايد و ويل شي، چې د ويهند نوم يې د هيون څانگ په سفرنامه کښې اودکه کهنډه Udakakhanda ليکلی دی.

د خروشتي کتيبو په ۱۷۰ مخ کښې ليکلي دي:

Und يا Ohind يو کلی دی د اباسين پر لوېديزه غاړه ۱۵ ميله تر اټک لوړ.

رضواني احمد شاه (۱۳۵۳ ق مړ) د پېښور په حال کښې کښلي دي:

ويهنډ هم د پېښور په ملک کښې لوی ښار ؤ. اوس وړکوټی غونډې کلی پاته شوی دی. دا هم هغه ښار دی چې د صوابۍ په ملک کښې د هنډ په نوم اوس هم يادېږي.

هنډ په صوابۍ تحصيل کښې د اټک له روده څخه تقريباً ۱۵ ميله ليري واقع دی. دا ښار د هندوشاهيه کورنۍ پايتخت بلل شوی دی. هيون څانگ د دې ځای ذکرپخپله سفرنامه کښې کړی دی.

د هنډ له کلي څخه څلور ميله ليري د لاهور کلی واقع دی. هرگربويس وايي:

د دې ښار ديوالونه د ۱۴۰۰ گزو محيط نيولی دی او غير له جنوبي دروازې څخه يې څلورو خواوو ته د دروازو نخښې شته. په (۱۸۹۴ء) کال کښې يې د دغه ښار د يوۀ ځاه په ديوال کښې يوه عربي کتيبه پيدا کړه چې دا مضمون پر کښلی و:

" بسم الله الرحمن الرحيم. بنا هذا البئر الفقيه ابو جعفر محمد بن عبدالجبار بن محمد الجوزجاني في ذي القعده سن اثنٰى و ثمانين و اربعمائة ( ۴۸۲ ه. ق ) من هجرت النبي عليه السلام "

د ټوپۍ جمشېد نومې پخپله منظومه رساله کښې چې د پیر بابا بالکۍ او کدرۍ نومېږي، د بالکۍ پلار د هنډ اوسېدونکی بللی دی، دی وايي:

و په هنډ کښې يو سړی نومې اکبر و
توره دار و د ټول کلي معتبر و
يوه روځ يې نمازديګر ناڅاپه زوږ شۀ
په ټول هنډ کښې د هر يو سړي په غوږ شۀ
د چنګېز تر دورې وروسته د دې ښار ذکر نۀ شته "(۳۲ )

په " هينډن " کښې خو د رود ذکر څۀ چې نوم يې دغه دی:

" غازي آباد ته نژدې د ډهلي خواته يو کوچنی رود شته، چې هنډن ندي يې بولي"(۳۳)

" هندُوان" (۳۴) د خوزستان او ارجان تر ميان د يو درياب نوم يادېږي.چي له نامه څخه يې هر څۀ څرګندېږي.

غرض دا چې د " هند" او " سيند " ربښه يوه ده.چي په پښتو کښې د اوبو او د رود په مانا کارېږي. دغه معنوي جوړښت يې د جغرافيې له پلوه هم په ډېرو پښتني سيمو کښې شته. چې ما يې څۀ مثالونه راوړل.

لغت "هند" د ژبې له لارې تر "هندي مذهب" زوړ دی. او پښتانۀ يې تر ننه پورې په بيلو لغتونو او مفاهيموکښې په اداينه کښې راوړي، د بلې ژبې دغه رنګ نۀ شته. د پښتو ژبې قدامت په لغوي څېړنه کښې خپل مدلل ځای نيسي، چې د ژبې د پوهانو دپاره د هيڅ پريشانۍ سبب نۀ ګرځي.

د پورتنۍ څېړنې په رڼا کښې زۀ دا نوم د "هندوباغ" پر ځای "هندباغ" ګڼم. چې د "باغ" او د "هند" له يو و بل سره تړون يې هيڅ شرح نۀ غواړي. او د "هندوباغ" په اړه دا اندېښنه که څۀ هم د روايت برخه ګرځي، او د دليل په دنيا کښې ځای نۀ لري، چې "هندو" او " باغ"، يعني د "هندوانو " د تجارت په اړه خو زمونږ سيمه شهرت لري. مګر د کرهڼې، کرنې او کر په اړه مې نۀ دي اورېدلي.

بله خبره دا ده، چې د "هندباغ" جغرافيې ته که پام وشي، نو پخوانۍ آبادي يې داسې نقشه لري، چې د غرونو له سرونو څخه د اوبو رواني سلسلې لري، چې تر اوسه پورې شته. او پر غاړه يې شاوخواخلقو ابادۍ کړې دي. چې "هند باغ" لغوي او جغرافيايي جوړښت ډېر ښه ورسره ښايي.

د خپل دغه اوږدۀ ليک پايله دا ګڼم، چې مونږ له خپل تاريخ سره انصاف نۀ دی کړی، او يو داسې تاريخي نوم مو له ميانه وړی دی. چې ډېر زوړ (قديم) او معنوي قدامت او ژورتيا لري. د انساني پوهې يو ښۀ زوړ ادراک راکوي. پر سرسري او روايتي خبرو مو ټينګار کړی دی، او د خپلو

ډېرو تېر شوو او راروانو نسلونو سمه نمائندګي مو نۀ ده کړې.هغه را تلونکي نسلونه به زمونږ پر دغه بې علمه ورځ ډېر ماتم کوي.

# حوالې

(۱)Imperial Gazetteer of India provincial series BALUCHISTAN اورينټل پبلشرز لاهور،
The Gazetteer of Baluchistan (ZHOB) مخ ۳۰۳ - ۱۹۸۲ ء گوشۀ ادب چاپ دويم، چاپ، ۱۰۸ مخ –

(۲)changing Hindu and Sikh names of places in Pakistan
Events, p1 social & current / defence.com www.Pakistan

(۳)The Gazetteer of Baluchistan (ZHOB) مخ ۳۰۴ ، ۱۹۸۲ ء گوشۀ ادب چاپ دويم،

(۴) حسن، اېم عثمان، بلوچستان اضلاع اور تاريخ، گوشۀ ادب کوټه چاپ دويم ۱۹۸۷ ء، ۵۸۴ مخ

(۵)Baluchistan through the ages، selection from government record، volume 2 -
نساء ټريډرز کوټه چاپ دويم ۱۹۸۰ ء، ۴۸ مخ-
Imperial Gazetteer of India provincial series BALUCHISTAN) اورينټل پبلشرز، لاهور چاپ، ۱۰۸ مخ.

The Gazetteer of Baluchistan (ZHOB) مخ ۳۰۴، ۱۹۸۲ گوشۀ ادب چاپ دويم

(۶) مونټ ستيوارټ الفنستين، د کابل سلطنت بيان، لومړی او دويم ټوک، د پوهاند محمد حسن کاکړ، نصرالله سوبمن ژباړه، دانش کتاب خانه قصه خوانی پېښور، ۲۰۰۸ ء، ۴۴۵ مخ

(۷) گستاؤلي بان، ډاکټر، تمدن هند، مقبول اکېډمي لاهور چاپ، ۷۳ مخ، چاپ کال نۀ لري، په ۱۹۶۲ ء کتابت شوی دی، د سيد علي بلگرامي اردو ترجمه

(۸) تاريخ ِهند، اې مارسډن، ترجمه لاله جيا رام/ خليفه عماد الدين، بک هوم لاهور ۲۰۱۰ء چاپ، ۵۳، ۵۴ مخ

(۹) اې مانفريد، تاريخ و تهذيب عالم، ترجمه، امير الدين، تقي حيدر، نگارشات لاهور ۱۹۹۹ ء چاپ، ۹۲مخ

(۱۰) شاهد، ايس ايم، د نړيوالو مذهبونو پېژندنه او د اديانو پر تلنه، دانش خپرندويه ټولنه چاپ دويم، مارچ ۲۰۱۲، ۵۲مخ، د جمال الدين عرفان ژباړه

(۱۱) محمد حسېن، مولوي، مترجم، سفرنامه ابن بطوطه، تخليقات لاهور ۲۰۰۸ ء، ۴۴ مخ

(۱۲) حبيبي، عبدالحی، د پښتو ادبياتو تاريخ، دانش کتاب خانه قصه خوانی پېښور ۲۰۰۵ ء، ۱۳۰مخ

(۱۳) رشاد، عبدالشکور، علامه، د کندهار يادانښتونه، لومړی او دويم ټوک، دانش چاپ پېښور۲۰۰۷ ء ۸۹۹ مخ

(۱۴) احمد، عبدالله، مذاهب عالم، مکي دار الکتب لاهور چاپ ۲۰۰۴ء می، ۲۳۹مخ

(۱۵) البلاذري، احمد بن یحیٰی بن جابر الشهیر البغدادي- فتوح البلدان، نفیس اکېډمی کراچي چاپ دوم ۱۹۷۰ ء، ۲۱۲مخ د سید ابوالخیر مودودي اردو ترجمه.
(۱۶) رشاد، عبدالشکور، علامه، د کندهار یاداښتونه، لومړی او دویم ټوک، دانش چاپ پېښور۲۰۰۷ ء، ۴۱مخ
(۱۷) سفرنامه ابن بطوطه، مترجم: مولوي محمد حسېن، تخلیقات لاهور ۲۰۰۸ ء چاپ، ۳۳مخ
(۱۸) گستاؤلي بان، ډاکټر، تمدن هند، مقبول اکېډمي لاهور چاپ، ۲۰۳ مخ، چاپ کال نهٔ لري، په ۱۹۶۲ ء کتابت شوی دی، د سید علي بلگرامي اردو ترجمه.
(۱۹) هندي اردو لغت، راجه راجیسور راؤ اصغر- مقتدره قومي زبان اسلام آباد چاپ ۱۹۹۳ ء - ۴۸۳ مخ
(۲۰) احمد، عبدالله، مذاهب عالم، مکي دار الکتب لاهور چاپ ۲۰۰۴ء می، ۲۴۲مخ
(۲۱) یاسرجواد، مترجم، دنیا کي قدیم ترین تاریخ، نگارشات لاهور 2001ء، ۲۸۸مخ
(۲۲) الفت مجله ۳۸ گڼه، عامر مقاله، نعت گویي او د جمال الدین مسافر کنزالجمال، ۱۳۸۷ ل، ۷۴مخ
(۲۳) لغات افغاني، راحت زاخیلي، ۲۲۱ مخ
A Dictionary of the Pukhto or Pushto Language of the afghan، H.G. Raverty- Saeed Book Bank Peshawar, p, 1008.
پشتو اردو لغت، حاجي پردل خان خټک، پښتو اکېډمی پشاور ۱۹۹۰ ء، ۱۲۵۶ مخ
(۲۴) زړه پانگه، دوست شنواری، د افغانستان د علومو اکاډمی کابل چاپ ۱۳۶۳ ل، ۶۵۴ مخ
(۲۵) دریاب، قلندر مومند، فرید صحرایي، ټېکسټ بک بورډ پېښور ۱۹۹۴ ء، ۱۳۱۲ مخ
(۲۶) هم دغه، ۱۳۱۱ مخ
(۲۷) رشاد، عبدالشکور، علامه، جغرافیایي یاداښتونه، علامه رشاد اکېډمی چاپ ۲۰۱۱ ء، ۵۳۴مخ
(۲۸) یاقوت بن عبدالله، رومي، حموي، بغدادي، معجم البلدان، شیخ غلام علي اینډ سنز لاهور چاپ، کال نهٔ لري، ۳۶۰ مخ، د ډاکټر غلام جیلاني برق اردو ژباړه
(۲۹) رشاد، عبدالشکور، علامه، د کندهار یاداښتونه، لومړی او دویم ټوک، دانش چاپ پېښور۲۰۰۷ ء، ۹۰۰ مخ
(۳۰) رشاد، عبدالشکور، علامه، جغرافیایي یاداښتونه، علامه رشاد اکېډمی چاپ ۲۰۱۱ ء، ۵۳۴مخ
(۳۱) هم دغه، ۵۳۷مخ
(۳۲) رشاد، عبدالشکور، علامه، د کندهار یاداښتونه، ۶ مخ
(۳۳) رشاد، عبدالشکور، علامه، جغرافیایي یاداښتونه، ۵۳۸مخ
(۳۴) یاقوت بن عبدالله، رومي، حموي، بغدادي، معجم البلدان، ۳۶۰ مخ